همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د لمریز برښنا په لاره کې یو کوچنی ګام. د افغانستان د انرژۍ د برابرووونکو د پاره یو لوی ګام؟

کابل، افغانستان، د وری میاشتی ۱۹، ۱۳۹۴ کال – نن د انرژۍ او اوبو د وزارت سرپرست ښاغلي غلام فاروق قاضیزاده د افغانستان د لمریزې انرژۍ لومړۍ شبکه یې پروژه په کابل کې په رسمي توګه پرانیسته. دغه آزموینیزه پروژه په خپل ډول کې لومړۍ پروژه ده چې د هیواد د برښنا د انرژۍ په ملي شبکه کې د لمریزې انرژۍ د تغذیې توان چې د بیلابیلو کاروونکو له خوا تولیدیږي، آزمویي. د لمریزې انرژۍ د شبکه یې سیستمونو ګټې دادي چې د دولتي انرژۍ په سرچینو باندې د خلکو تړلوالی کموي او په عین حال کې پخپله په شبکه باندې بار را ټیټوي. شبکه یې سیستمونه لکه هغه سیستم چې نن ورځ پرانیستل شو په عمومي شبکې پورې تړل کیږي او زیاته انرژي بیرته د انرژۍ د برابرولو سیستم ته ورکوي. د دغې پروژې پلان شوی ظرفیت ۳ کیلوواټه دی. د دغه سیستم د احداث د پاره مالي او تخنیکی مرسته د المان د حکومت له خوا کیږي.

د پرانیستلو په مراسمو کې ښاغلي غلام فاروق قاضیزاده داسې وویل: "دغه د ۳ کیلوواټو شبکه یې سیستم کیدای شي د انرژۍ په عمومي شبکه کې د پاملرنې وړ ونډه ونه ګټل شي، خو دا لومړنی ګام دی او مونږ ته په راتلونکې کې د داسې یوې پروژې د کار په باب معلومات راکوي. په یقین سره به دغه په فرد پورې منحصره پروژه د لمریزې انرژۍ د ګټو او امکاناتو په باب د خبرتیا کچه لوړه کړي او وبه ښیي چې په افغانستان کې – په هغه هیواد کې چې په کال کې ۳۰۰ لمریزې ورځې لري – د لمریزې انرژۍ ګټې څه ناڅه د لمر د انرژۍ په شان بې پایه ده".

د دغې آزموینیزې پروژې موخه داده چې چه هغه تنګوني وڅیړي، ویې وپیژني او ویې آزمویي کومې چې کیدای شي په افغانستان کې شبکه یې سیستمونه ورسره مخامخ شي. په دغې تجربوي پروژې کې همدا راز د لمریزې انرژۍ د شبکه یې سیستمونو کارونه او د ادغام محدودیتونه او د حل لارې تر څیړنې او تحلیل لاندې نیول کیږي. په لاس راغلي تجربې د پوهنتونونو محصلین، خصوصي سکتور، حکومت او د نویکدونکي انرژۍ نور اکتوران کولای شي په هیواد کې د لمریزې انرژۍ د تکنلوژۍ د منځته راوړلو او پراخولو د پاره د هغو نه ګټه واخلي.

افغانستان د لمریزې انرژۍ د یوه ډیر لوړ پوتسیال څښتن دی او په یوه کال ۳۰۰ لمریزې ورځې لري او د لمر د تشعشع ورځنۍ منځنۍ کچه په یوه مربع متر کې ۲،۵ کیلوواټ ساعته رسیږي. د لمریزې انرژۍ کاروونکي سربیره پردې چې کوروالو، شرکتونو او دولتي ادارو ته د انرژۍ د تولید د حل لاره برابروی، داسې تولید چې د ژوند د چاپیریال د پاره زیان و نرسوي، همدارنګه کولای شي خپله زیاته انرژي خدماتي شرکتونو ته وپلوري او په دې توګه د خپل د برښنا لګښټ را ټیټ کړي و په عین حال کې د برښنا د انرژۍ عمومي شبکې ته پاکه انرژي برابره کړي.

که چیرې یوه ودانۍ له هغه څه څخه چې یو لمریز سیستم یې تولیدوي زیاته انرژي مصرفوي، د اړتیا وړ اضافی برښنا د شبکې نه اخیستل کیږي. که چیرې لمریز سیستم د اړتیا نه زیاته انرژي تولیدوی، زیاته شوي انرژي بیرته خدماتی شبکې ته ورکول کیږي او د غه خدماتی شرکت کولای شي د شبکې د میتر له مخې د لګښت په بیل کې هغه د کریډټ په بڼه شامل کړي. کله چې د لمر په رڼا کې برښنا ولاړه شي، د ماجولونو لرونکی سیستم او د بټریو بانک په دغه موده کې نومړې مانۍ ته برښنا ورکوي.

په کابل کې د لمریزې انرژۍ شبکه یې تجربوي پروژه د هغه پروګرام یوه برخه جوړوي چې د المان د حکومت له خوا د افغانستان د حکومت په همکاری، هم د افغانستان په ښارونو او هم کلیوالی سیمو کې د نویکیدونکي انرژۍ د برابرولو په لاره کې د مرستې په موخه تمویلیږي. څرنګه چې په کابل کې د فبروري، مارچ او اپریل په میاشتو کې د برښنا کموالی وښوده چې افغانستان اوس هم ډیر زیات په توریدي انرژۍ پورې تړلی دی، خو دا هیواد د نویکیدونکي انرژۍ د سرچینو لکه لمر، باد او اوبو پر بنسټ د برښنا د شبکو د احداثولو ډیر لوی پوتنسیال لري. همدارنګه، څرنګه چې د افغانستان زیات شمیر کلي او ډیر واړه محلات چې تراوسه د واټن د زیاتوالی له کبله د برښنا په عمومي شبکې پورې تړل شوی ندي، لمریزه برښنا کولای شي د هیواد تجرید شویو ولسوالیو او کلیو ته هم اوس او هم په راتلونکې کې یو بنسټیز رول ولوبوي.

د ۲۰۰۷ کال راهیسې د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره د افغانستان سره د المان د همکاری د پروګرام په چوکاټ کې د نویکیدونکي انرژۍ په سکتور کې د ظرفیتونو د جوړولو په لاره کې د افغانستان حکومت د هڅو څخه ملاتړ کوي. دغه پروګرام چې د المان د اقتصادی همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا تمویلږي یوه موخه یې داده چې د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزارت ته د پالیسو په کارولو، د غیرمتمرکزې نویکدیونکي انرژۍ د تکنولوژیو د کارونې او مراقبت او ساتنې په باب مشوره ورکړي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de